د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبـــوعـــــاتو رياست

# د اقتصادي معاونيت فعاليتونه
# او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۴ لمریز کال

څلورم راپور



دریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of Deputy PM for Economic Affairs

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# **او د هېوادوالو نظرونه**

**(د ۱۴۰۴ ل کال څلورم تحلیلي راپور)**


**ناشر:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**ډيزاينر:** عطاءالرحمن سعيد



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل ـ افغانستان
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د برېښنا یو شمېر لویو پروژو چارې پیل او ځینې ... .....۱
له کونړ سیند څخه تر درونټې بند پورې د اوبو رسولو وړاندیز د تایید وړ وبلل شو...................٦
د کابل ولایت مقام مخې ته د هوایي پُل د جوړېدو چارې پیل شوې .................................۱۰
د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې جوړې شوې ......................................................۱۴
ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۲.۵ میلیارده افغانیو په لګښت ۲۱ پروژې منظورې کړې ..........۱۸
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو له وزیر ... .....۲۲
بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې د اقامو پر ورکړه بحث وشو ................۲۷
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: تاریخ ګواه دی چې افغانستان غوره ګوله نه؛ بلکې د زقوم ونه ده ..۳۱
د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولیدي پروژو پیل او... ........................................۳٦
د کابل – بګرام سړک د جوړېدو چارې پیل شوې.......................................................۴۱

# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د برېښنا يو شمېر لويو پروژو چارې پيل او ځينې يې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې



## سريزه

برېښنا د يو هېواد د صنعتي کېدو له پاره ډېره ضروري ده، ځکه ټول صنعتي فعاليتونه په برېښنا چلېږي. اسلامي امارت دغه څه درک کړي او همدا لامل دی چې په هېواد کې يې د برېښنا توليد او وېش ته توجه ډېره کړې او وخت په وخت يې په اړه د پرمختګ خبرونه اورو. همدغسې ځينې پروژې په هرات کې پرانيستل شوې.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د مرغومي په څلورمه نېټه په هرات ولايت کې د ۳.۹۸ ميلیارده افغانيو په ارزښت د برېښنا ۹ لويو پروژو څخه دځلورو يې چارې پيل او پنځه نورې يې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال دغه پروژې د افغانستان د صنعتي او اقتصادي ودې لپاره مهمې وبللې او ويې ويل، چې د يادو پروژو پر مټ به د هرات ولايت ټولو صنعتي پارکونو ته ۲۴ ساعته برېښنا برابره، سوداګريز مرکزونه، کليوالي سيمې او استوګنيز مرکزونه به له برېښنا برخمن او په کور دننه به د باثباته برېښنا خاوندان شو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همدا ډول ټولو هغو پانګوالو ته چې د سرو خونو جوړولو په برخه کې پانګونه کوي، زيری ورکړ چې

له یوې خوا به ورته پنځه کلن مالیات معاف کړي او په ورته وخت کې به د افغانستان برېښنا شرکت په هر ډول حالاتو کې دوی ته دایمي برېښنا هم ورسوي. هغه له ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو وغوښتل چې له دې فرصت څخه استفاده وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همدارنګه له ټولو هېوادونو وغوښتل چې له افغانستان سره د محدودونکو سیاستونو پر ځای تعاملي سیاستونه غوره او د دغه هېواد ننني امنیتي ثبات ته د یو مهم فرصت په سترګه وګوري. محترم ملا صاحب زیاته کړه، نړیوال دې له اسلامي امارت څخه پر ارزښتونو د تعامل کولو تمې نه کوي. د هغه په خبره، اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره متوازن سیاست غوره کړی او ټول تمرکز یې د افغانستان پر اقتصادي وده، امنیتي ثبات او غوره حکومتولی دی. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قراردادي شرکتونو له مسوولینو او تخنیکي ټیمونو څخه وغوښتل چې د نویو پیل شویو پروژو چارې په پوره کیفیت او ټاکلي وخت بشپړې کړي.

د یادونې وړ ده چې له ترکمنستان څخه د ۱۳۰ کیلومتره په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولټ لین غځول او په کرُخ، پشتون زرغون، اوبې او چشت شریف ولسوالیو کې د څلورو سب‌سټېشنونو جوړول هغه پروژې دي چې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د یادو پروژو له لارې ۴۰ زره کورنیو ته برېښنا رسول کېږي.

همدارنګه په نویو پیل شوو پروژو کې د پُل هاشمي سب‌سټېشن جوړول، د ۲۴ حوت شهیدانو سب‌سټېشن پراختیا، د نورالجهاد سب‌سټېشن د بې لین ایجاد او همداراز د پُل هاشمي، نورالجهاد او د ۲۴ حوت شهیدانو سب‌سټېشنونو ترمنځ د برېښنا انتقالي لین غځول شامل دي.


## هرات کې د برېښنا پروژو د چارو د پیل او پرانیستې موخه:

صنعتي ښارګوټو او عامو هېوادوالو ته د برېښنا رسول

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د برېښنا یو شمېر لویو پروژو چارې پیل او ځینې یې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۷۷۲ مثبت نظرونه، ۱٦۷ منفي نظرونه او ۱۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۱٪ مثبت نظرونه، ۱۸٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړاندیزونه دي.

## امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- برېښنا زموږ بېکارې له منځه وړي، برېښنا سره فابریکې فعالېږي.
- هرات کې د دې فابریکې فعالېدل به د هرات خلک کرنیزو محصولاتو، لباس، لومړنیو خوراکي توکو، برېښنا او نورو برخو کې ځان بسیاینې ته ورسوي.
- د هېواد د ابادۍ په هیله، د کابل برېښنا ته دې ډېره توجه وشي.
- فابریکې یوازې هرات کې مه جوړوئ، نورو ولایتونو ته هم توجه وکړئ.
- هېوادوال باید درک کړي، چې اوس د پانګونې له پاره ښه فرصت برابر شوی، د پانګونې له پاره اقدام وکړئ.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثريت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې په هرات کې د برېښنا ځينو پروژو د چارو پېل او د ځينو ګټې اخيستلو خبر په اړه مثبت نظريات ورکړي او دا يې لويه لاسته راوړنه بللې ده. د دوی له نظره، برېښنا د بېکارۍ کچې کمولو کې مهم رول لوبوي او فابريکې ورسره فعالېږي. واقعيت هم دا دی چې هېوادوالو څرګند کړی دی. د نړۍ نړدې ټول صنعتي فعاليتونه په برېښنا چلېږي. په نننۍ نړۍ کې چې کوم هېوادونه پرمختللي دي، نو د صنعتي فعاليتونو له پاره د کافي برېښنا له امله دي. کله چې په کوم هېواد کې صنعتي فعاليتونه زيات وي، نو خلکو ته ډېرې دندې وي او په کار بوخت وي. د افغانستان اسلامي امارت پوهېږي چې د افغانستان د اقتصادي وروسته پاتې والي يو لامل د کافي او دوامداره برېښنا نه لرل دي. همدا لامل دی چې د برېښنا مختلفې پروژې يې پېل کړې دي او غواړي چې د افغانستان له اوبو، لمر، باد او د انرژۍ د توليد له نورو سرچينو استفاده وکړي، څو له يوې خوا د هېواد له ظرفيته استفاده وشي او د صنعتي فعاليتونو له پاره کافي برېښنا توليد شي او له بل لوري د برېښنا په برخه کې د نورو له احتياجه خلاص شو. د خپلې برېښنا په لرلو سره به په هېواد کې ډېرې فابريکې جوړې او ډېر توکي به توليد شي او په ډېرو برخو کې به ځان بسيايني ته ورسېږو.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ليکلي چې فابريکې يوازې په هرات کې مه جوړوئ، بلکې نورو ولايتونو ته هم توجه وکړئ. بلکل! د هېوادوالو دا خبره منطقي ده، خو د دوی په ځواب کې بايد ووايو چې د افغانستان اسلامي امارت په تبعيضي سياست باور نه لري، چې يوې سيمې او يا يوه ولايت ته ډېره توجه وکړي او نور له پامه وغورځوي، بلکې ټول افغانستان خپل ګڼي او په کومو سيمو کې چې اړتيا ډېره وي، نو لومړيتوب ورکول کېږي. هرات د افغانستان له هغو ولايتونو دی چې خصوصي سکتور په کې ډېره پانګونه کړې او د افغانستان د صنعتي مرکز بڼه يې خپله کړې. په دې اساس هلته د برېښنا اړتيا د نورو ولايتونو په پرتله ډېره ده. خو اسلامي امارت نور ولايتونه هم له پامه نه دي غورځولي او وينو چې په ګڼو ولايتونو کې د برېښنا د توليد پروژو چارې روانې دي. اسلامي امارت د ټول هېواد اقتصادي پرمختګ خپل مسووليت بولي.

☜ **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ويلي چې اوسمهال په هېواد کې د پانګونې له پاره ښه فرصت برابر شوی او د پانګونې له پاره دې اقدام وشي. رښتيا خبره دا ده چې په افغانستان کې له څلور لسيزو وروسته د ۱۴۰۰ کال له تحول سره سرتاسري امنيت رامنځته او د پانګونې له پاره مناسب فرصت رامنځته شو. موږ وينو چې په تېرو شاوخوا څلورو کلونو کې په افغانستان کې په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې کچه زياته شوې او کورنيو او بهرنيو پانګوالو د ميلياردونو افغانيو په اندازه پانګونه کړې ده. دا پانګونه له يوې خوا د هېواد د اقتصادي ودې لامل شوې او له بلې خوا

یې د بېکارۍ کچې کمولو کې پام وړ رول لوبولی دی. اسلامي امارت د پانگوالو او صنعتکارانو د هڅونې په موخه گڼ شمېر امتیازات او اسانتیاوې په نظر کې نیولي، چې کولی شي دوی ترې استفاده وکړي.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا تولید ته توجه کړې او د انرژۍ برخه کې یې مختلفې پروژې پلې کړې دي. د دې پروژو موخه په هېواد کې د اړتیا وړ انرژۍ پوره کول، صنعتي فعالیتونو ته پراختیا او د بېکارۍ کچې کمول دي.

هېوادوالو په هرات کې د برېښنا د تولید او وېش پروژو په پیل او گټې اخیستنې پر سپارلو خوښي څرگنده کړې او په نورو ولایتونو کې یې هم د ورته پروژو غوښتنه کړې ده. اسلامي امارت د ټول هېواد متوازن پرمختگ ته ژمن دی او په دې اړه یې په مختلفو ولایتونو کې اړتیا ته په کتو د پروژو چارې پیل کړې دي.

# له کونړ سیند څخه تر درونټې بند پورې د اوبو رسولو وړاندیز د تایید وړ وبلل شو



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اوبو مدیریت لومړیتوب کې نیولی دی. د دې له پاره یې د هېواد په مختلفو ولایتونو کې ګڼې پروژې پیل کړې دي، چې ځینې یې د برېښنا او ځینې یې د کرنې د پراختیا په موخه دي.

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د لیندۍ په ۲۴مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوې وه، چې غونډې ته له کونړ سیند څخه د ګمبیري دښتې د ښکتنۍ برخې په مسیر د درونټې بند تر کاسې پورې د اوبو رسولو وړاندیز د بحث له پاره وړاندې شو. له هراړخیز بحث وروسته یاد وړاندیز د تایید وړ وبلل شو او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو.

له کونړ سیند څخه درونټې بند ته د اوبو په انتقال سره به د ننګرهار ولایت د ډېرې کرنیزو ځمکو د اوبو کمښت ستونزه حل شي. همدارنګه په دې غونډه کې د بادغیس ولایت د حلقوي سړک د پنځمې برخې (۲۵ کیلومتره) پروژې په اړه هم بحث وشو. په دې اړه ځانګړې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادې پروژې هراړخیزه څېړنه ترسره او راپور یې د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.


## له کونړ سیند څخه تر درونټې بند پورې د اوبو رسولو وړاندیز د تایید موخه:

د کرنې پراختیا

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (له کونړ سیند څخه تر درونټې بند پورې د اوبو رسولو وړاندیز د تایید) نشر شوي خبر په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۹۵۵ مثبت نظرونه، ۳۴ منفي نظرونه او ۳۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۳٪ مثبت نظرونه، ۳.۵٪ منفي نظرونه او ۳.۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا پرېکړه د ملي ګټو، کرنې او دوامدار پرمختګ له پاره یو ډېر ارزښتناک او غوره ګام دی. د کونړ له سینده د درونټې بند ته د اوبو د لېږد له لارې به د ننګرهار د کرنیزو سیمو د وچکالۍ ستونزه تر ډېره حده راکمه شي.

- دا پروژه د راتلونکو نسلونو د سوکالۍ، ځان بسياينې او پرمختګ بنسټ ايږدي. د داسې ملي پروژو ملاتړ د هر افغان مسووليت دی.
- خدای تعالی دې وکړي چې د کابل - جلال اباد سرک ترې جوړ نه کړي.
- ښه کار دی، خو نن ورځ چې نړۍ د اوبو له بحران سره مخ ده او د افغانستان اوبه بايد په سمه ډول مديريت شي.
- د دې طرحې عملي کېدل به د خوړو په توليد کې ځان بسيانه پياوړې کړي په تيره بيا د مالټو او ستروسو د توليد په برخه کې.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** لوی اکثريت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې له کونړ سينده درونټې بند ته د اوبو رسولو پروژې د وړانديز په تاييد خوښي څرګنده کړې او دا يې په هغه سيمه کې د کرنې د پراختيا له پاره مهم ګام بللی دی. واقعيت دا دی چې افغانستان د کرنې د پراختيا له پاره ډېرې اوبه لري چې په ښه مديريت سره يې کېدلی شي چې هېواد مو په ډېرو برخو کې د اوبو له برکته پر ځان بسيا شي. اوسمهال د هېواد د خاورې ډېرې شاړې ابادې نه دي، چې اصلي لامل يې د اوبو نه موجوديت دی. اسلامي امارت دغه ستونزه درک کړې او د همدې له پاره يې د اوبو مديريت لومړيتوب کې نيولی، څو له يوې خوا د هېواد له اوبو سالمه استفاده وشي او له بلې خوا کرنه پراختيا ومومي. په ننګرهار او لغمان کې د ګمبيري سيمه، چې د کافي اوبو نه شتون له امله اباده شوې نه ده، د دې پروژې په پېل سره به يې ډېره برخه د کرنې له پاره چمتو شي چې له امله به يې کاري فرصتونه ايجاد او ترڅنګ به يې کرنيز حاصلات زيات او سوداګري به ورسره پراختيا ومومي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د پروژې په بشپړېدو شک څرګند کړی دی او ويلي يې دي چې دا پروژه هم د کابل-جلال اباد دويم لين سړک په څېر نه شي. لومړی خو بايد ووايو چې د کابل-جلال اباد دويم لين سړک چارې روانې دي. له دواړو خواوو، هم د کابل له لوري او هم د جلال اباد له لوري د سړک د اساسي جوړولو چارې روانې دي او د ټولګټو وزارت مسوولين او د ننګرهار ولايتي مسوولين له دې سړک څخه وخت په وخت ليدنې کوي، څو يې چارې په ښه ډول په ښه کيفيت بشپړې شي. دويمه خبره چې د دې هېوادوالو په ځواب کې يې بايد ووايو، د افغانستان اسلامي امارت چې د کومې پروژې د پېل او بشپړولو اراده وکړي، نو هغه سرته رسوي او که څه تخنيکي ستونزې نه وي، نو هره پروژه په وخت سره پای ته رسېدلې ده. که په هېواد کې د ځينو بشپړو شويو پروژو چارې وګورو، نو دا زموږ د دې ادعا ښه ثبوت دی، چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ په چارو کې جدي دی.

☜ **دریېم:** ځینو هېوادوالو په خپلو نظریاتو کې لیکلي چې دا پروژه به په سیمه کې د مالټو او ستروسو برخه کې افغانستان ځان بسیاینې ته ورسوي. بلکل! دا یو څرګند واقعیت دی چې د ننګرهار او لغمان ځینې سیمې د مالټو او ستروسو د حاصلاتو له پاره ډېرې مناسبې دي او ښه حاصل ورکوي. د دې پروژې په بشپړېدو سره به هلته د مالټو او ستروسو ګڼ باغونه جوړ شي، چې حاصلات به یې تر یوې کچې د هېواد داخلي اړتیا پوره کړي. اسلامي امارت غواړي چې افغانستان په مختلفو سکټورونو کې ځان بسیاینې ته ورسېږي او کرنه چې د افغانستان د اقتصاد د ملا تیر جوړوي، ډېره پاملرنه ورته په کار ده. اسلامي امارت له همدې امله په هېواد کې د کرنې پراختیا له پاره د هېواد اوبه مدیریت کوي.

## پایله

افغانستان ډېرې شاړې ځمکې لري چې په ابادېدو سره یې په هېواد کې کرنه ډېره پراختیا مومي او له همدې امله د هېواد عمومي اقتصادي وضعیت ورسره ښه کېږي. د دې شاړو دښتو د ابادۍ له پاره اوبه ډېرې مهمې دي.

افغانستان د کرنې له پاره بهاند سیندونه لري، چې سالم مدیریت یې کولی شي د هېواد شاړې دښتې ابادې کړي. د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د کرنې د پراختیا له پاره هڅې کوي او په همدې موخه یې د کانالونو جوړول پېل کړي دي چې ورسره به په هېواد کې کرنه پراختیا ومومي او په ځینو سکټورونو کې به ځان بسیاینې ته ورسېږو.

# د کابل ولایت مقام مخې ته د هوايي پُل د جوړېدو چارې پيل شوې



## سريزه

کابل ښار د افغانستان له ګڼ نفوسه ښارونو دی، چې بې نظمه پراختيا په کې ښاريان له ګڼو ترافيکي ستونزو سره مخ کړي دي. کابل ښاروالي هڅې کوي چې ښار کې ترافيکي ستونزو راکمې، ښاريانو ته لازمې اسانتياوې رامنځته او ښار ته منظمه پراختيا ورکړي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ لمريز کال د مرغومي په نهمه نېټه د کابل ولايت مقام مخې ته د موټرو د تګ راتګ لپاره د هوايي پُل د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د نفوس زياتوالي، د اقتصادي فعاليتونو حجم او د کابل ښار اوسني وضعيت ته په کتو ښاري پراختيا، ترانسپورټي زېربنا او ښاري نظم اساسي اړتيا وبلله او ويې ويل، کابل ښار بايد په معاصره توګه د يو منظم ښاري پلان له مخې پراختيا ومومي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې وويل، له نېکه مرغه کابل ښاروالۍ د همدې اړتيا په درک کولو سره په بې سارې توګه د کابل ښار د ترانسپورټي او ښاري نظم په برخه کې د پام وړ کارونه ترسره کړي، چې د ستاينې او قدر وړ دي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال همداراز له کابل ښاريانو وغوښتل څو د ښار په پاکوالي او نظم کې خپل مسووليت ادا او د زېربنايي پروژو په برخه کې پوره همکاري وکړي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د دې پروژې له انجنيرانو وغوښتل چې د ټولو معيارونو په پام کې نيولو سره يې چارې په ښه ډول بشپړې کړي.

دغه هوايي پُل ۲۳۵ متره اوږدوالی، ۱۸ متره سور او ۶.۸ متره لوړوالی لري چې ۴۶۲ ميليون افغانۍ لګښت پرې راځي او چارې به يې په ۱۵ مياشتو کې بشپړې شي.


## د کابل ولايت مخې ته د هوايي پُل جوړېدو موخه:

ښاري پراختيا او هېوادوال له ترافيکي ستونزو خلاصول

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې(د کابل ولايت مخې ته د هوايي پُل د جوړېدو د چارو پېل) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۴۱۲ مثبت نظرونه، ۱۲۲ منفي نظرونه او ۵۳ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۳٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړانديزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- ملا صاحبانو متې رابډ وهلې دي، شپه او ورځ نه ګوري. په تېرو څلوېښتو کلونو کې دومره خدمت نه دی شوی، لکه په دې څلورو کلونو کې چې شوی دی.
- که دا پروژه په معیاري او منظم شکل تطبیق شي، د ملا صاحبانو له سترو لاسته راوړنو او خدمتونو یې شمیرلی شو.
- په دې پروژو سره هېوادوالو ته اسانتیاوې برابرېږي او د بېکارۍ ستونزې کمېږي. ان شاءالله.
- کابل واقعاً له ګڼې ګوڼې ډک ښار دی، دا ګام د ستاینې وړ دی.
- لومړی بندونه جوړ کړئ، چې هم کرنه شي او هم برېښنا.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** زیاتره هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د کابل ولایت مخې ته د هوايي پُل په جوړېدو خوښي ښودلې او د کابل ښاروالۍ دا ګام یې د ستاینې وړ بللی دی. د دوی په وینا، په څلوېښتو کلونو کې دومره کار نه و شوی، لکه د افغانستان اسلامي امارت چې په خپله څلور کلنه دوره کې کړی. بلکل! اسلامي امارت په ډېرو کمو امکاناتو او نړیوالو بندیزونو سربېره په څلورو کلونو کې لوی کارونه ترسره کړي دي. که یوازې د کابل ښاروالۍ لاسته راوړنې وګورو، نو بې سارې دي. په کابل ښار کې د غصب شویو ملکیتونو خلاصول او د ښاري پراختیا په موخه د ګڼو سړکونو جوړول هغه کارونه دي چې په تېر کې د شته فساد او د ډېرو پیسو په موجودیت کې هم ترسره نه شول. د اسلامي امارت د مسوولینو قاطع دریځ او د هېواد د ابادۍ جذبې له امله دا هر څه ممکن شول. موږ او تاسو ګورو چې کابل د اسلامي امارت د واکمنۍ له پیل وړاندې او بیا څلور کاله وروسته ډېر توپیر لري. سړکونه پراخه شوي، د ښار پاکوالي ته توجه ډېره شوې او عمومي نظم له پاره هڅې کېږي. د اسلامي امارت د واکمنۍ په دوام سره به نه یوازې کابل، بلکې د ټول افغانستان څېره بدله او په مختلفو برخو کې به پرمختګونه ووینو.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې لیکلي چې دغه ډول پروژې هېوادوالو ته اسانتیاوې برابروي او د بېکارۍ کچې د کموالي لامل ګرځي. واقعیت هم دا دی چې د هېواد د ابادۍ کارونه نه یوازې د هېوادوالو له پاره د اسانتیا

لامل ګرځي، بلکې کاري فرصتونه هم ورسره ایجادېږي. د بېلګې په ډول، د قوش تېپې کانال پروژه، د برېښنا د تولید پروژې، د سړکونو د جوړولو پروژې او نورې ګڼې پروژې په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو لامل شوې دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له لارې په هېواد کې د بېکارۍ کچه صفر کړي. په تېرو څلورو کلونو کې په همدې موخه ډېرې هڅې شوې، چې له امله یې د میلیاردونه افغانیو په ارزښت په مختلفو سکټورونو کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب شوې ده.

☜ **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د افغانستان له اسلامي امارت څخه د بندونو جوړولو غوښتنه کړې. د دوی په وینا، دا بندونه به نه یوازې د کرنې، بلکې د برېښنا د تولید لامل هم شي. دا ډېر ښه نظر دی. اسلامي امارت هم غواړي چې د هېواد له اوبو سالمه استفاده وشي. په مختلفو ولایتونو کې د بندونو چارې روانې دي، چې په بشپړېدو سره به یې په هېواد کې د برېښنا تولید زیات او کرنه به پراختیا ومومي. دغه راز، ځینې بندونه ګټې اخیستنې ته سپارل شوي، لکه د شاه و عروس بند، پاشدان بند او ځینې نور متوسط او کوچني بندونه. اسلامي امارت پلان لري چې د برېښنا برخه کې د خپل هېواد له سرچینو کار واخلي او دغه راز د هېواد ښارو دښتو ته اوبه برابرې کړي، چې له امله به یې په هېواد کې کرنه پراختیا ومومي.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت مسوولین هڅه کوي چې د کابل ګڼ نفوسه ښار کې ښاریانو ته اسانتیاوې رامنځته او ښار ته منظمه پراختیا ورکړي، څو کابل ښاریان له ترافیکي ستونزو خلاص او د ښار ښکلا هم زیاته شي. ډېری هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د اسلامي امارت د هڅو منه او ستاینه کړې او د دې ډول نورو پروژو غوښتنه یې کړې ده. اسلامي امارت غواړي چې ټول هېواد په اقتصادي لحاظ پرمختګ وکړي او افغانستان د نړۍ له پرمختللي کاروان سره یو ځای شي.

# د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې جوړې شوې



## سریزه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۲۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا ملي پالیسي وړاندې او له بحث وروسته تایید شوه. د کرنې او مالدارۍ سکټور میکانیزه کول، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د څېړنیزو او ترویجي سیستمونو پراختیا، د اوبولګونې سیستمونو مدیریت، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په برخو کې د پانګونې ملاتړ او باکیفیته کرنیزو او حیواني محصولاتو ته د خلکو لاسرسی د دې پالیسۍ اساسي موخې دي.

همدارنګه په دې غونډه کې د کبانو روزنې سکتور د پراختیا پر طرحه هم بحث ترسره او تایید شوه. د دې طرحې له مخې به د هېواد په مختلفو سکټورونو کې د خصوصي سکټور د پانګونې له لارې په ۶۵۰۰ هکتاره ځمکه د کبانو د تولید او روزنې ۷۷۰۰ کوچنې، متوسط او لوی فارمونه جوړ شي. د دې طرحې په تطبیق سره به په مستقیم ډول ۵۰ زره او په غیر مستقیم ډول به ۲۵۰ زره هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي. همدارنګه د غونډې په پای کې د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې په اړه یې اړوندو ادارو ته لازمي سپارښتنې وشوې. دغه راز، د اقتصادي کمېسیون بله نوبتي غونډه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۴ کال د مرغومي په ۲۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. دې غونډې ته د هلمند ولایت د ښوراب ملکي هوايي ډګر او هلته د شته سړې

خونې د بېرته فعالولو، د بار وړونکو وسايطو د نوبت قانون د تطبيق، په صنعتي پارکونو کې د ځمکې د نرخونو د قسطونو د وخت، د ولايتونو پر اساس د صنعتي پارکونو د ځمکو د کټه‌ګوريو ټاکلو او هېوادوالو ته د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو په موخه هغو پانګوالو ته چې په افغانستان کې نوې پانګونه کوي د مالياتي معافيت موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول. له بحث وروسته د يادو موضوعاتو د هراړخيزې څېړنې له پاره کمېټې وټاکل شوې، څو خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د اقتصادي کمېسيون مجلس ته وړاندې کړي. همداراز د غونډې په پای کې د يوشمېر تعقيبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول. ياد راپورونه تاييد او اړوندو ادارو ته يې د تطبيق سپارښتنه وشوه. پورته پرېکړې د نهايي تصميم په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.


## د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډو جوړېدو موخه:

د کرنې او مالدارۍ سکتور د پياوړتيا له لارې د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو رامنځته کول

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډو جوړېدو) نشر شويو خبرونو په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۶۹ مثبت نظرونه، ۲۱ منفي نظرونه او ۱۰ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۰٪ مثبت نظرونه، ٦٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړانديزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، څکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- پاکستان سره د لارو تړلو له امله کبان ډېر قيمته شوي دي، غريب سړی يې نه شي خوړلی.
- د ننګرهار او هلمند هوا د کبانو فارمونو له پاره مناسبه ده. د نورو هېوادونو له تجربو دې استفاده وشي، څو ځان بسياينې ته ورسېږو.
- د فارمونو جوړولو سربېره دې د خپلو سيندونو د کبانو ساتنه هم وشي.
- په سيندونو کې د کبانو د نيولو له پاره زهري مواد استعمالېږي، بايد مخه يې ونيول شي.
- د واخان ريل پټلۍ ډېره ضروري ده او سل په سله بايد ونښلي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ويلي چې له پاکستان سره د لارو تړلتيا له امله په هېواد کې کبان قيمته شوي دي او د دې له پاره چې د کبانو سکتور کې ځان بسياينې ته ورسېږو، نو په ځينو ولايتونو کې دې فارمونه جوړ شي. د دې هېوادوالو په ځواب کې بايد ووايو چې له پاکستان سره د سوداګرۍ د بندېدو له امله ممکن يو څه وخت په بازار کې د کبانو قيمتونه لوړ شوي وي، خو د افغانستان اسلامي امارت مسوولينو د هڅو له امله له نورو هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو د ټينګېدو له امله د کبانو قيمتونه ژر بېرته عادي شول او اوس له ډېري مودې په بازار کې کبان په ارزانه بيه موندل کېږي. اسلامي امارت له بديلو بازارونو د هېواد د داخلي اړتيا د پوره کولو هڅې کوي، خو ترڅنګ يې د هېواد مختلفو سکتورونو کې د ځان بسياينې هوډ کړی او خپله ټوله هڅه کوي چې د کبانو سکتور کې هم تر ډېره بريده داخلي توليد ولرو. په دې اړه په وروستيو کې هڅې ګړندۍ شوې او په مختلفو ولايتونو کې د کبانو د توليد فارمونه جوړ شوي دي او بازار کې د بهرنيو وارداتو ترڅنګ د هېواد د فارمونو کبان هم موندل کېږي. اسلامي امارت غواړي چې په هېواد کې د کبانو سکتور پراختيا ومومي او په دې اړه يې جدي ګامونه اخيستي دي، چې د اقتصادي کمېسيون په يوه غونډه کې د کبانو سکتور د پراختيا د طرحې تاييدي د دې ګامونو ښه ثبوت دی.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ليکلي چې د فارمونو د جوړېدو ترڅنګ دې د هېواد د سيندونو کبانو ساتلو ته هم توجه وشي او د زهري موادو د استعمال مخه دې ونيول شي. هو! اسلامي امارت دې چارې ته متوجه دی او په ټول هېواد کې يې د کبانو غېر قانوني ښکار بند کړی او د دې اساسي موخه د هېواد په سيندونو کې د کبانو د نسل ساتنه ده. اسلامي امارت د کبانو د غېر قانوني ښکاريانو سره قانوني چلند کوي، چې په مختلفو ولايتونو کې يې بېلګې شته او هغه چا چې دغه ناسمه کړنه ترسره کړې، نو قانوني چلند ورسره شوی دی. هېوادوالو ته په کار ده چې له غېر قانوني کړنو ځان وساتي او له امارتي مسوولينو سره د کبانو د نسل ساتنې په برخه کې همکاري وکړي.

☜ **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرياتو کې د واخان ريل پټلۍ پروژې جوړول ضروري بللي دي او غوښتنه يې کړې ده چې دا پټلۍ دې جوړه شي. افغانستان په داسې يو جغرافيوي موقعيت کې پروت دی چې د سيمه ييز اتصال لوی ظرفيت لري او کولی شي چې د سيمې مختلف هېوادونه له يو بل سره ونښلوي. ايراني مسوولينو د افغانستان د بدخشان (واخان) له لارې له چين سره د نښلېدو په اړه ځرګندونې کړې دي او امارتي مسوولينو سره يې په دې اړه ناستې هم کړې دي. اسلامي امارت هم غواړي چې دغه پروژه عملي شي او که چارې يې ځومره ژر پېل او بشپړېږي، نو دا ريل پټلۍ نه يوازې د افغانستان، بلکې د سيمې د ټولو هېوادونو په ګټه ده. اسلامي امارت هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې لکه د ټاپي پروژې په څېر د سيمه ييز اتصال د نورو پروژو د عملي کولو په اړه هم جدي دی او غواړي چې افغانستان د سيمې پر اقتصادي مرکز او ځلور لارې بدل کړي، خو ځينې کارونه وخت ته اړتيا لري او په مناسب وخت کې پرمختګونه کېږي.

## پايله

د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د کرنې او مالدارۍ سکتور پراختيا او له دې لارې کاري فرصتونو برابرولو ته ژمن دی. کرنه او مالداري د هېواد د اقتصادي ځرخ مهمه ستنه ده، ځکه د هېواد لويه برخه وګړي په کې په کار بوخت دي.

زياته برخه هېوادوالو په خپلو ځرګندونو کې د کبانو سکتور کې د اسلامي امارت له کړنو رضايت ځرګند کړی دی او د امارتي مسوولينو هڅې يې ستايلې دي. اسلامي امارت په هېواد کې د کبانو غېر قانوني ښکار بند کړی او که هر څوک سرغړونه کوي، قانوني چلند ورسره کېږي.

# ملي تداركاتو کمېسيون د شاوخوا ۲.۵ ميلیارده افغانيو په لګښت ۲۱ پروژې منظورې کړې



## سريزه

د افغانستان اسلامي امارت نه يوازې د هېواد صنعت، کرنې، بربېښنا او نورو سکتورونو ته توجه کړې، بلکې روغتيا سکتور يې هم له پامه نه دی غورځولی او د هېوادوالو له پاره د روغتيايي اسانتياوو د برابرولو په موخه يې لازم اقدامات کړي دي. يو له دې د هېواد په محرومو سيمو کې د روغتيايي مراکزو جوړول دي، چې پروژې يې د ملي تداركاتو کمېسيون له لوري منظورېږي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تداركاتو کمېسيون نوبتي غونډې ته، چې د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په اوومه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، ۳۳ پروژې د منظورۍ له پاره وړاندې شوې، چې له ډلې يې د شاوخوا ۲.۵ ميليارد افغانيو په ارزښت ۲۱ پروژې منظور شوې. په اوو پروژو کې بيا يو لړ تعديلونه راغلل. همداراز يوه پروژه بياځلې پرانيستې ملي داوطلبۍ او بله پروژه د ګټونکي شرکت د مخکنيو کاري نيمګړتياوو له امله معطل شوه. د دغه شرکت د ټولو موجودو قراردادونو د هراړخيزې څېړنې له پاره کمېټه وټاکل شوه، څو له څېړنې وروسته خپل راپور د ملي تداركاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي. همدارنګه يوه پروژه بېرته اړوند وزارت ته د تداركاتي ستونزو له امله اعاده او د دوو پروژو د قيمتونو په اړه ټاکل شويو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو په دې اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور يې د ملي تداركاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي.

په منظور شویو او تعدیل شویو پروژو کې د کابل، هرات، ننگرهار، بلخ او خوست د هوایي ډگرونو د گمرکونو له پاره د سکېنرونو اخیستل، له گردیز تر خوست پورې د عمومي سړک ترمیم، د غزني او فراه ولایتونو له پاره د امنیه قوماندانیو د ودانیو جوړول، د سرپل د سلطان ابراهیم بند د اوبو لگولو د تفصیلي ډیزاین او امکان سنجۍ مطالعات، د سرپل د سانچارک، سوزما قلعه او گوسفندي ولسوالیو ته د برېښنا رسوني، د کندوز په قلعه ذال، د هلمند په گرشک، د پروان په شینوارو، د فراه په پرچمن، د خوست په لکن، د تخار په ورسج، د کاپیسا په آله سای، د کابل په شکردرې او د بدخشان په درایم ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو جوړول او همدارنگه په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسوني او توزیع یوشمېر پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.


## ملي تدارکاتو کمېسیون کې د منظور شویو پروژو موخه:

هېوادوالو ته د اسانتیاوو برابرول او د خدماتو وړاندې کول

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولگه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (ملي تدارکاتو کمېسیون کې د منظور شویو پروژو) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ٦٩٦ مثبت نظرونه، ٦١ منفي نظرونه او ۲۵ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۹٪ مثبت نظرونه، ۸٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړاندیزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولگه



## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا ډول پروژې د خلکو ژوند اسانه کوي او د روغتيايي خدمتونو کچه لوړوي.
- خدای تعالی دې وکړي چې دا پروژې تطبيق شي او د روغتيا برخه کې د هېوادوالو ستونزې حل شي.
- په نورو سيمو کې هم روغتونونه جوړ کړئ، اړتيا ورته ډېره ده.
- کندهار، فارياب، تخار، نيمروز، هلمند، ننګرهار او پکتيا ځينو ولسواليو کې هم روغتونونه جوړ کړئ، سخت ناروغان نورو سيمو ته په وخت نه انتقالېږي.
- روغتيا سکتور ته توجه په کار ده، خو ترڅنګ يې برېښنا ته هم ډېره توجه وکړئ، چې دوامداره او له خپلو سرچينو برېښنا ولرو او ستونزو سره مخ نه شو.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثريت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د ملي تدارکاتو کمېسيون له لوري د هېواد د مختلفو ولايتونو په بېلابېلو ولسواليو کې د عمومي روغتونونو د منظورۍ په اړه مثبت نظر ورکړی او هغه يې د ځايي اوسېدونکو د روغتيايي خدماتو د ښه والي له پاره مهم بللي دي. هېوادوالو د دغو پروژو د تطبيق هيله څرګنده کړې ده. ربښتيا خبره دا ده چې په هېواد کې د روغتيا سکتور له پاره ډېر کار نه دی شوی او ډېرې ستونزې اسلامي امارت ته په ميراث پاتې دي. اسلامي امارت غواړي لکه د نورو سکتورونو په څېر د روغتيا سکتور ته هم توجه وکړي او هغه سيمې چې روغتيايي خدمات په کې نه شته، هلته روغتيايي خدمات وړاندې کړي، څو د هېوادوالو په ژوند کې اسانتياوې رامنځته شي. اسلامي امارت هوډ لري چې ټول هېوادوال له روغتيايي خدماتو برخمن شي، په هېواد کې د روغتيايي خدماتو معيار نور هم لوړ کړي او د سختو ناروغيو درملنه په خپل هېواد کې وشي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو نظرياتو کې د هېواد په نورو سيمو کې هم د روغتونونو د جوړېدو غوښتنه کړې ده. د دې هېوادوالو په ځواب کې بايد ووايو چې د افغانستان اسلامي امارت ټول هېواد ته توجه کوي او غواړي چې ټول افغانستان ته روغتيايي خدمات ورسوي او هغه سيمې چې محرومې دي د هغوی ستونزو ته رسيده ګي وکړي. دا چې په يو وخت په ټول هېواد کې پراختيايي او رغنيزې چارې نه شي پيل کېدای او هره سيمه کې د

پروژې اړتیا او تدارکارتي پروسه وخت نیسي، نو په همدې اساس د ځینو ولایتونو په ولسوالیو کې د روغتونونو چارې منظور شوې، خو د دې مطلب دا نه شو چې ګنې په نورو محرومو سیمو کې به روغتیایي خدمات نه وړاندې کېږي او هغه سیمې به همداسې محرومې پرېښودل کېږي، بلکې د خدای تعالی په مرسته به د وخت په راتلو او د پروسو په بشپړېدو سره د هېواد په ټولو محرومو سیمو کې روغتونونه جوړ شي او هېوادوال به له روغتیایي خدماتو برخمن شي. اسلامي امارت متوازنې پراختیا ته ژمن دی او ټول افغانستان ته د خدماتو رسول خپل مسوولیت ګڼي.

☜ **دریېم:** یو شمېر هېوادوالو په خپل ځرګندونو کې ویلي چې د روغتیا سکتور ته د توجه ترڅنګ د برېښنا سکتور ته هم توجه په کار ده، څو له خپلو سرچینو برېښنا ولرو. هېوادوالو بلکل سمه خبره کړې ده او ضروري ده چې خپله برېښنا ولرو، ځکه افغانستان د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري. له اوبو، لمر، باد او نورو سرچینو د برېښنا د تولید له پاره ښه فرصتونه لرو، خو اسلامي امارت غلی ناست نه دی، بلکې دې سکتور ته یې هم توجه کړې او موږ او تاسو ګورو چې د برېښنا د تولید ځینې پروژې بشپړې شوې او ځینې تر کار لاندې دي. د اسلامي امارت مسوولین شپه او ورځ د خپل ولس په خدمت او ورته اسانتیاوو برابرولو کې بوخت دي او هڅه کوي چې افغانستان د برېښنا سکتور کې ځان بسیاینې ته نږدې کړي او د هېواد له داخلي ظرفیت څخه بشپړه ګټه واخیستل شي.

## پایله

په هېواد کې د روغتیا سکتور وضعیت ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت پرېکړه کړې چې دغه سکتور ته ډېره توجه وکړي، څو هغه هېوادوال چې له روغتیایي اسانتیاوو محروم دي، روغتیایي اسانتیاوې ورته برابرې او ستونزې یې حل شي. اسلامي امارت غواړي په تدریجي ډول او خپلو امکاناتو ته په کتو په ټول هېواد کې روغتیایي خدمات وړاندې کړي.

ګڼ شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د اسلامي امارت له لوري په مختلفو ولایتونو کې د روغتونونو جوړول ستایلي او دا یې د هېوادوالو د روغتیایي ستونزو د حل په برخه کې یو مهم ګام بللی دی. هېوادوالو په نورو ولایتونو کې د ورته ګامونو اخیستو هیله څرګنده کړې، چې اسلامي امارت به یې دغه هیلې حتمن پوره کوي. ان شاءالله

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو له وزير سره وکتل




## سريزه

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پاليسۍ پر بنسټ د سيمه ييز اتصال له پاره هڅې کوي او غواړي چې افغانستان د سيمې په نښلون کې مهم رول ولوبوي. د تاپي، ټاپ، کاسا زر او ريل پټلۍ ترځنګ ګڼې پروژې دي چې د افغانستان له خاورې تېرېږي، چې افغانستان په کې محوري رول لوبوي. له همدې امله ده چې د هېواد له ځينو مهمو ګاونډيو او په مختلفو پروژو کې ښکېلو هېوادونو سره د اړيکو د ټينګښت او پروژو د پلي کېدو په اړه ليده کاته کېږي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۱۲مه نېټه په هرات کې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو وزير ښاغلي رشيد مردوف سره وليدل. د دې ليدنې پرمهال د افغانستان د کانونو او پټروليم وزير الحاج ملا هدايت الله بدري، د اوبو او انرژۍ وزير الحاج ملا محمد يونس اخوندزاده، د ترکمنستان د ترانسپورټ او ريل پټلۍ وزير، د دولت وزير او د ترکمن ګاز دولتي شرکت رييس او يوشمېر افغان او ترکمن مسوولينو هم حضور درلود. په ليدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د تاپي، ټاپ، د اوسپنې پټلۍ او برېښنا پروژو په اړه خبرې وشوې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د تاپي پروژې پيل د افغانستان، ترکمنستان او سيمې هېوادونو ترمنځ د اړيکو پراختيا ته زمينه برابره کړې او په دې پروژه کې د سعودي عربستان دلتا انټرنېشنل کمپنۍ هم پانګونې ته لېوالتيا ښودلې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، دلتا انټرنېشنل کمپنۍ لېواله ده چې د تاپي پروژې د ګازو اخيستلو، د ترکمنستان د لوی

ګازي بلاک د ظرفيت لوړولو، د هرات له ګذرې ولسوالۍ د کندهار تر سپين بولک ولسوالۍ، له سپين بولدک بيا د هند تر پولې د ګازو د پايپ لاين جوړولو او غځولو، د پاکستان په ګوادر بندر کې د ګازو د ستر او عصري مرکز جوړولو په برخو کې پانګونه وکړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال همدارنګه له ترکمنستان څخه وغوښتل چې د تورغونډۍ – هرات ريل پټلۍ پروژې د جوړېدو په اړه افغانستان ته خپل دريځ روښانه کړي؛ ځکه د دې پروژې د تطبيق له پاره قزاقستان هم قوي لېوالتيا لري. هغه همداراز د افغانستان له لوري د ټاپ پروژې د لار نقشې د نهايي کېدو له پاره بشپړ چمتووالی وښود او د دې ترڅنګ يې بالا مرغاب، خماب او قرقين ولسواليو ته د برېښنا انتقال او د سيمه ييز اتصال د نورو پروژو د پيل له پاره د افغانستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ. هغه د دواړو هېوادونو ترمنځ په روانو پروژو کې افغانانو ته د کاري زمينې د برابرېدو په اړه هم ټينګار وکړ. ورپسې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير ښاغلي رشيد مردوف خبرې وکړې. هغه له اسلامي امارت څخه مننه وکړه چې د ټاپي پروژې د تطبيق له پاره يې ښه زمينه برابره کړې او ويې ويل، چې د روان ميلادي کال تر پايه به د دې پروژې کارونه د هرات تر مرکز پورې راورسيږي. نوموړي په ټاپي پروژه کې د بهرنيو شرکتونو د پانګونې له لېوالتيا هرکلی وکړ او زياته يې کړه، چې په دې اړه بايد له نږدې کار ورسره وشي. همداراز هغه د ترکمنستان له لوري د تورغونډۍ – هرات ريل پټلۍ پروژه کې هم پانګونې ته چمتووالی وښود او ويې ويل چې عملاً يې په تورغونډۍ کې کارونه پيل کړي. نوموړي زياته کړه، هېواد يې چمتو دی چې له پنځو لارو افغانستان ته برېښنا انتقال او ظرفيت يې لوړ کړي. پردې سربېره د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ پراخېدو، بانکي همکاريو، کاري فرصتونو پر ايجاد او په مختلفو برخو کې د اقتصادي پروژو د مديريت په اړه د ګډ کار کولو په اړه هم خبرې وشوې. د يادونې وړ ده چې د غونډې په پای کې د دواړو هېوادونو د تخنيکي ټيمونو له لوري د روانو پروژو د کاري پرمختګونو په اړه تفصيلي معلومات هم له ګډونوالو سره شريک شول.


## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو وزير سره د ليدنې خبر موخه:

د سيمه ييز اتصال ټينګښت.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو وزير سره د ليدنې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۱۹۴ مثبت نظرونه، ۳۲ منفي نظرونه او ۱۴ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۸۵٪ مثبت نظرونه، ۱۴٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړانديزونه دي.

## امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا به ډېر ښه کار وي چې د ټاپي پروژې ډېره برخه افغانستان کې استعمال شي.
- په ټاپي پروژه دې کار چټک شي.
- د ټاپي پروژې سره به ډېرو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شي.
- د بېکارۍ ختمېدو له پاره هڅې وکړئ.
- پاکستان سره په ضمانت لارې خلاصې کړئ.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثريت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ترکمنستان د لومړي وزير له مرستيال او بهرنيو چارو له وزير سره د ليدنې په اړه مثبت نظريات ورکړي دي، په ځانګړې ډول د ټاپي پروژې په اړه يې ويلي چې په دې پروژه دې کار چټک شي او د ګازو له ډېرې برخې دې په افغانستان کې ګټه پورته شي.

د ټاپي په څېر د سيمه ييز اتصال پروژې د افغانستان له پاره ډېرې مهمې دي. ټاپي پروژه، چې د ترکمنستان ګاز د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته لېږدوي، افغانستان ته ډېرې ګټې لري، چې يوه يې افغانستان ته د ګازو ورکړه ده، چې له امله به يې نه يوازې د ډېرو هېوادوالو کورونو ته ګاز ورکړل شي او ژوند کې به يې اسانتيا رامنځته شي، بلکې صنعت به هم ورسره وده وکړي. د دې پروژې کارونه په هرات کې په چټکۍ روان دي او لکه څنګه چې ژمنه شوې هماغه ډول به يې کارونه پرمخ ځي. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې له هېوادوالو سره خپلې کړې ژمنې د خدای تعالی په مرسته بشپړې کړي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د ټاپي پروژه په هېواد کې د بېکارۍ د پای ته رسولو له پاره مهمه بللې او له اسلامي امارته يې غوښتي چې د بېکارۍ د له منځه وړلو له پاره هڅې وکړي. بلکل! د ټاپي پروژه په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو له پاره ډېره مهمه ده. اوسمهال هم يو شمېر هېوادوال په ټاپي پروژه کې په کار بوخت دي، خو کله چې دا پروژه ګټې اخيستنې ته وسپارل شي او ګاز يې صنعتي فابريکو ته ورکړل شي، نو د صنعتي فعاليتونو په زياتېدو سره به نورو ګڼ شمېر هېوادوالو ته هم د کار زمينه برابره شي. اسلامي امارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو په تړاو په تېرو څلورو کلونو کې ډېرې هڅې کړې دي. د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې جذب، د مختلفو صنعتي فابريکو پېل، د بريښنا د توليد او کرنې د پراختيا پروژو په ګډون يې په مختلفو سکتورونو کې فعاليتونه کړي، چې له امله يې ډېر هېوادوال په کار بوخت شوي دي. اسلامي امارت غواړي چې د ټاپي ترڅنګ د سيمه ييز اتصال نورې پروژې هم پېل شي، څکه په دې سره د هېواد په اقتصادي وضعيت کې بدلون راځي او ګڼ کاري فرصتونه ايجادېږي.

☜ **درېيم:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګريزو لارو بندولو په اړه نظر ورکړی او غوښتنه يې کړې چې له ضمانت اخيستلو وروسته دې له پاکستان سره لارې خلاصې شي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او نورو امارتي مسوولينو ويلي چې له قوي ضمانت ورکولو وروسته به دا لارې بيا خلاصېږي. اسلامي امارت په خپله خبره ولاړ دی او غواړي چې د هېوادونو ترمنځ بايد په هر حال سوداګري روانه وي او سوداګري او سياست بايد له يو بله جلا وي. اسلامي امارت خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په خپل دريځ به ودرېږي او چې هره پرېکړه کوي، نو د افغانستان ګټې به په نظر کې نيسي.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه او د سیمه ییز اتصال پروژې د کاري فرصتونو د ایجاد له پاره مهمې ګڼې. دا ډول پروژې نه یوازې د کاري فرصتونو د ایجاد، بلکې د افغانستان او سیمې د اقتصادي ودې، سیمې د ثبات او همکارۍ له پاره ډېرې مهمې ګڼي او چمتو دی چې خپل مهم رول په کې ولوبوي.

اکثریت هېوادوالو د ټاپي پروژې د کارونو ستاینه کړې او هغه یې د کاري فرصتونو د ایجاد او بېکارۍ له منځه وړلو له پاره مهمه بللې ده. د دوی په وینا، د دې پروژې کارونه دې چټک شي. اسلامي امارت ژمنه کوي چې د پروژې چارې به د ژمنې مطابق سرته رسوي.

# بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې د اقامو پر ورکړه بحث وشو



## سریزه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۱۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې له یو تر لسو کلونو پورې د افغانستان د اقامې د ورکړې موضوع د بحث له پاره وړاندې شوه. له بحث وروسته موضوع تایید او په دې اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پانګونې مقدار ته په کتو د اقامې د ورکړې وخت په کټه‌ګوریو ووېشي او د موضوع د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره خپل راپور د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. همدارنګه په دې غونډه کې د هېواد په ګمرکونو کې د تیر (TIR) عملیې د پیل او پای د پلي کېدو پر موضوع هم بحث وشو. د دې موضوع د هراړخیزې ارزونې په اړه کمېټه وټاکل شوه، څو خپل راپور په ټاکلي وخت اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. همداراز د غونډې په پای کې د لاله او صدف ښارګوټو په اړه ټاکل شوو کمېټو د خپلو ارزونو راپورونه وړاندې کړل. د یادو راپورونو په پام کې نیولو سره له اړوندو ادارو څخه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو ښارګوټو موضوعات په هراړخیز ډول وڅېړي او راپورونه یې له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي.


## بهرنيو پانگوالو ته د اقامې د ورکړې خبر موخه:

موخه يې د بهرني پانگونې جذب او د پانگوالو ملاتړ ده.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولگه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (بهرنيو پانگوالو ته د اقامې د ورکړې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۳۴۰۰ مثبت نظرونه، ۴۹۰ منفي نظرونه او ۷ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۸۷٪ مثبت نظرونه، ۱۲.۵٪ منفي نظرونه او ۰.۵٪ سالم وړانديزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولگه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلگې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- ښه اقدام او مهمه اقتصادي پرېکړه ده. کولی شي چې پانگونې ته نوي فرصتونه ايجاد کړي.
- نېک اقدام دی. په دې ډول امنيت کې بايد ټول هېواد ته راشي او بهرنيان دې پانگونې ته تشويق کړي.

- هغه هېواد کې پانګونه کېږي چې د انرژۍ له پلوه پر ځان بسیا وي.
- انرژۍ پروژو او خصوصي سکتور ته زیاته توجه وکړئ.
- دا ګام د هېواد د اقتصادي ثبات له پاره ډېر مهم دی.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثریت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې بهرنیو پانګوالو ته د اقامې ورکړه یو مثبت ګام بللی دی او دا یې د بهرنۍ پانګونې د جذب له پاره یو ښه فرصت بللی دی. رښتیا خبره دا ده چې د بهرنۍ پانګونې د جذب له پاره اسلامي امارت ډېرې هڅې کړې دي. له ګڼو امتیازاتو، اسانتیاوو او معافیتونو ورکولو سربېره بهرنیو پانګوالو ته په هېواد کې د اقامې د ورکړې اساسي موخه هېواد ته د بهرنۍ پانګونې جذب دی. د اقامې په ورکړې سره به هغه بهرني صنعتکاران او پانګوال چې غواړي په افغانستان کې پانګونه وکړي، د ډېر وخت تېرېدو اجازه ترلاسه کړي او دلته به د ډېر وخت اوسېدو او د خپلو چارو د څارنې له پاره کافي وخت ومومي او وکولی به شي چې خپل کارونه د ویزې او نورو ستونزو لرلو پرته پرمخ یوسي. په دې ډول به له دې اسانتیاوو سره هېواد ته بهرنۍ پانګونه راشي او افغانستان به د بهرنۍ پانګونې پرمټ وده وکړي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې په هېواد کې د انرژۍ کمښت ته اشاره کړې او ویلي یې دي چې پانګونه په هغو هېوادونو کې کېږي، چې د انرژۍ له پلوه بسیا وي. د دوی په وینا، د انرژۍ پروژو او خصوصي سکتور ودې ته دې توجه وشي. واقعیت دا دی چې په هېواد کې د انرژۍ کمښت محسوسېږي او هغومره اندازه انرژي چې باید افغانستان یې ولري، اوس مهال یې نه لرو. په تېرو وختونو کې د انرژۍ د تولید پروژو ته ډېره توجه نه وه شوې، خو اسلامي امارت په هېواد کې د انرژۍ د تولید ظرفیت لوړولو له پاره هڅې کوي. هم په امارتي کچه او هم د خصوصي سکتور له لارې هڅه کېږي چې په هېواد کې د انرژۍ تولید زیات شي، ځکه همدا انرژي او برېښنا ده چې صنعتي فابریکې پرې چلېږي او که چېرې موږ کافي انرژي ونه لرو، نو کافي پانګونه هم نه جذبېږي. اسلامي امارت د هېواد له داخلي سرچینو د برېښنا د تولید ظرفیت لوړولو له پاره هم خپله هڅه کوي او هم یې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د ملاتړ له لارې د برېښنا د تولید ګڼې پروژې پیل او ځینې یې پای ته رسولې دي. د عزیزي انرژۍ له لوري په هېواد کې د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید پروژو بشپړ ملاتړ د دې ښه ثبوت دی چې اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا کچې لوړېدو په اړه جدي دی، ځکه له برېښنا پرته د هېواد اقتصادي څرخ له ستونزو سره مخ کېږي.

☜ **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو خبرو کې ویلي چې دا ګام د هېواد د اقتصادي ثبات له پاره ډېر مهم دی. بلکل! بهرنیو پانګوالو ته د اقامې ورکړه به د هېواد په اقتصادي وضعیت کې مثبت بدلون راولي. بهرني پانګوال او صنعتکاران به د اقامې له ستونزو پرته هېواد ته راځي او دلته به د ګڼو امتیازاتو او اسانتیاوو په لرلو سره پانګونه کوي، چې دا پانګونه به د هېواد په اقتصادي ثبات ژور اغېز پرېباسي. د بهرنۍ پانګونې پر مټ به د هېواد اقتصادي وده او ناخالص کورنی تولید زیات شي، کاري فرصتونه به رامنځته شي چې له امله به یې د هېوادوالو د عاید کچه زیاته او بې وزلي به راکمه شي. دغه راز، کورني تولیدات به زیات او د صادراتو کچه به هم ورسره لوړه شي. په دې اساس بهرنۍ پانګونه د هېواد په اقتصادي ثبات ژور اغېز لري. په وروستیو کې اسلامي امارت د بهرنۍ پانګونې د جذب له پاره ډېرې هڅې کړې دي.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت له لوري بهرنیو پانګوالو ته د اقامو ورکړه د هېواد د اقتصادي ودې په موخه یو مهم ګام ګڼل کېږي. په دې سره به په هېواد کې بهرنۍ پانګونه زیاته شي، چې له امله به یې د هېواد اقتصادي وده ګړندۍ شي.

اکثریت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د اسلامي امارت له لوري بهرنیو پانګوالو ته د اقامې د ورکړې په اړه مثبت نظر ورکړی دی او دا یې د هېواد د اقتصادي وضعیت او په ځانګړې ډول د بېکارۍ کچې کمولو له پاره مهم ګام بللی دی.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: تاريخ ګواه دی چې افغانستان غوړه ګوله نه؛ بلکې د زقوم ونه ده



## سريزه

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۱۹مه نېټه د حضرت ابو عبيده بن جراح (رض) د ملي دفاع پوهنتون قوماندانۍ اړوند د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ د اوولسمې دورې په فراغت غونډه کې ګډون وکړ. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د نظامي اکاډمۍ په تربيتي دوره کې د مسلکي زده کړو ترڅنګ د ملي دفاع، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او سياسي حاکميت د اهميت په اړه د زده کړو ترلاسه کولو له امله فارغانو ته مبارکي وويله او له هغوی يې وغوښتل، چې دا روحيه او زده کړه د اسلامي او لوړو افغاني ارزښتونو د ساتنې لپاره په عمل کې ثابته او د اسلامي نظام او خاورې له لوېشت لوېشت ځخه په کلکه دفاع وکړي. محترم ملا صاحب د نيتونو پر اصلاح، د تقوا پر اختيارولو او د هېوادوالو پر خيال ساتلو هم ټينګار وکړ. محترم ملا صاحب وويل، اسلامي امارت د اقتصاد محوره سياست په چوکاټ کې په سيمه ييز او نړيوال مشارکت باور لري او د خپلو اصولو په چوکاټ کې له هر هېواد سره تعامل ته ژمن دی. هغه ټينګار وکړ چې د اوږدمهاله سياسي او اقتصادي ګټو د خوندي کولو لپاره لازمه ده څو هېوادونه د يو او بل ارزښتونو او حساسو حريمونو ته درناوی ولري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پانګوالو ته زيری ورکړ، چې په نږدې ورځو کې به اسلامي امارت کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته په نويو سکټورونو کې د پانګونې اندازې

ته په کتو له یو تر پنځو کلونو پورې بشپړ مالیاتي معافیت اعلان کړي. د هغه په خبره، په دې سره به له یوه لوري نوي سکټورونه پرمختګ وکړي او له بل لوري به د هېواد په اقتصادي وده او خودکفایۍ کې د پام وړ اغېز ولري. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته جدي هدایات شوي چې د کوچني، متوسط او لوی صنعت لپاره د ځمکو د توزیع پروسه ګړندۍ او لازم امکانات ورته برابر کړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز وویل، چې د اسلامي امارت سیاست کاذب نه دی او نني افغانستان خپلې پالیسۍ پر هغو نهادونو بناء کړې دي، چې اساس یې اسلامي شریعت دی. هغه زیاته کړه: «افغانستان نه چا ته ضرر رسول غواړي او نه یې له چا مني. خو که څوک ناولې ارادې ورته لري، نو بیا خپل پور چا ته نه پرېږدي. تاریخ ګواه دی چې دا هېواد غوړه ګوله نه؛ بلکې د زقوم ونه ده؛ د مُعَمَّرو امپراتوریو مرۍ یې ور ترخې کړې، نو مولود ماشومان به یې هېڅکله هضم نه سي کړای.»

په پای کې محترم ملا صاحب له ټولو هېوادونو وغوښتل چې د اسلامي امارت د ارزښتونو او اصولو په چوکاټ کې دې له افغانستان سره د تعامل هڅه وکړي او هغه انرژي او امکانات چې د یو او بل په تخریب ضایع کېږي، ښه ده چې د یو او بل په ملاتړ او د مشترکو ټکو په پیاوړي کولو مصرف شي.


## د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ فراغت غونډې خبر موخه:

موخه یې د نظامي فارغانو هڅونه، د اسلامي نظام او ملي حاکمیت د دفاع پر ارزښت ټینګار او د اقتصادي پالیسۍ او پانګونې اسانتیاوو اعلان ده.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ فراغت غونډې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۳۰۴۵ مثبت نظرونه، ۲۲۸ منفي نظرونه او ۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۳٪ مثبت نظرونه، ٦٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړاندیزونه دي.

## امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته مورږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- اسلامي امارت د افغانستان د ابادۍ تکل کړی دی.
- اسلامي امارت غواړي د افغانستان ځان بسياينې ته پام وکړي او د هېواد د پانګونې چاپېريال ښه کړي.
- افغانستان د اشغالګرو او مغرضو هېوادونو او د هغوی د جاسوسانو او غلامانو له پاره د زقوم ونه ده.
- بلکل! دا هېواد دښمن ته غوړه ګوله نه ده، بلکې د زقوم ونه ده.
- سړکونه جوړ کړئ، ټول افغانستان کې يو موټړ وې سړک نه لرو.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی:** اکثريت هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د وينا په اړه مثبت نظر څرګند کړی دی. د دوی په وينا، د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ تکل کړی دی او غواړي چې افغانستان ځان بسياينې ته ورسوي. هو! اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ قوي هوډ لري او په تېرو څلورو

کلونو کې یې د ډېرو بهرنیو بندیزونو او ستونزو سربېره په ځینو سکتورونو کافي پرمختګ کړی دی. په هېواد کې د انرژۍ، صنعت، درملو، کرنې، مالدارۍ او نورو سکتورونو کې پرمختګونه شوي دي، خو اسلامي امارت دا کافي نه ګڼي او د هېواد د اقتصادي ودې له پاره به نورې هڅې هم کوي، څو افغانستان د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې حساب شي. دغه راز، د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره مناسب چاپېريال رامنځته شوی دی. پانګوالو او صنعتکارانو ته په افغانستان کې د پانګونې او صنعتي فعالیتونو د پیلولو له پاره ګڼ امتیازات او اسانتیاوې په نظر کې نیول شوي دي، ځکه له پانګونې پرته د یوې هېواد اقتصاد وده نه شي کولی. اسلامي امارت په هېواد کې د سرتاسري امنیت په راوستو سره د پانګونې او اقتصادي فعالیتونو له پاره خورا ښه زمینه برابره کړې چې په تېرو څلورو کلونو کې تړې کورنیو او بهرنیو پانګوال ښه استفاده کړې ده. اسلامي امارت غواړي چې نور پانګوال هم په افغانستان کې د پانګونې له فرصته استفاده وکړي.

- **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هغه خبره تکرار کړې چې ویلي یې دي، افغانستان غوړه ګوله نه، بلکې د زقوم ونه ده. واقعیت همدا دی چې افغانستان د دښمنانو له پاره د زقوم ونه ده چې هضمول یې ډېر سخت دي. افغانانو د تاریخ په اوږدو کې په ډېره مېړانه له بهرنیو یرغلګرو سره ډغرې وهلې او له وطنه یې شړلي دي. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په وینا کې هم هماغو مېړانو ته اشاره شوې چې افغانستان زړو او لویو امپراتوریو هضم نه کړای شو، نو نوي زېږېدلي ماشومان یې هېڅکله نه شي هضمولی. له دې خبرو د افغانستان هغه ګاونډی هېواد هدف دی چې په افغانستان کې د بې ثباتۍ هڅې کوي او غواړي افغانستان کمزوری او په جګړو کې ښکېل کړي، خو اسلامي امارت او ملي اسلامي اردو متوجه ده او هېڅکله به ورته اجازه ورنه کړي چې افغانستان بې ثباته کړي.

- **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د سړکونو جوړولو غوښتنه کړې ده او په هېواد کې یې د معیاري او لویو سړکونو د نه موجودیت په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده. د دې هېوادوالو په ځواب کې باید ووایو چې اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د سړکونو جوړولو ګڼې پروژې پیل کړې دي. په دې کې د کابل-جلال اباد او کابل-غزني دویم لین سړکونو په ګډون ځینې نور لوی او مهم سړکونه شامل دي چې په اساسي ډول جوړېږي. دغه راز، د ځینو لویو لارو لکه سالنګ لویې لارې په ګډون د ځینو نورو سړکونو بیارغونه هم روانه ده. د دې ترڅنګ د کابل په ګډون د نورو ولایتونو ښاري سړکونو ته کافي پراختیا ورکړل شوې او نوي سړکونه هم ایستل کېږي. اسلامي امارت په تېرو څه باندې څلورو کلونو کې د سړکونو پراختیا ته ډېره توجه کړې ده، ځکه دا سړکونه نه یوازې د هېواد د داخلي ترانسپورت له پاره مهم دي، بلکې د سیمه ییز اتصال او سوداګرۍ له پاره هم مهم ګڼل کېږي. د یادونې وړ ده چې د ځینو پروژو د چارو بشپړول وخت اخلي او په لنډ وخت کې یې بشپړول ممکن نه وي. په دې اساس هېوادوال باید حوصله ولري او د هېواد د ابادولو له پاره دې د اسلامي امارت په پیاوړې اراده شک نه کوي.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت په تېرو څه باندې څلورو کلونو کې د امنیتي-نظامي برخې د پیاوړتیا ترڅنګ د اسلامي نظام د ټینګښت، د پانګونې د جذب او اقتصادي ودې له پاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي. د هېوادوالو له تبصرو ښکاري چې هغوی د اسلامي امارت له کړنو راضي دي او مثبت نظر لري.

اکثریت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د هېواد د ابادۍ او دفاع په موخه د اسلامي امارت هڅې ستایلې دي. دوی د هېواد د اقتصادي ودې په موخه د پانګونې د جذب په اړه د لا ډېرو هڅو غوښتنه کړې ده، چې اسلامي امارت ورته متوجه دی او تر اوسه په مختلفو سکتورونو کې د میلیاردونو افغانیو په ارزښت کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب شوې ده.

# د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليدي پروژو پيل او د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال او عزيزي ګروپ مشر ليدنه



## سريزه

د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا د توليد له شته ظرفيته د استفادې په موخه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب ډېرې هڅې کړې دي او توانېدلی چې له دې لارې په هېواد کې د برېښنا د توليد د ظرفيت کچه لوړه کړي. عزيزي ګروپ، چې په افغانستان کې يې د لس زره مېګاواټه برېښنا د توليد ژمنه کړې، وروستيو کې يې د خپلې ژمنې د پوره کولو په موخه د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفيت د برېښنا د توليد د يو شمېر پروژو عملي چارې پيل کړې.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې په ۲۲مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول. د دې تړونونو له مخې به د عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت د کابل په نغلو سيمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمريزه برېښنا، د پروان په باريک اب سيمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمريزه برېښنا، په غزني کې۱۳۰ مېګاواټه لمريزه برېښنا او همدارنګه په تخار کې ۱۶۵ مېګاواټه او په بغلان کې۳۵۰ مېګاواټه د ډېرو سکرو برېښنا توليد کړي.

په یادو پروژو شاوخوا ۴۶۳ میلیون ډالر پانگونه کېږي، چې د لمریزې برېښنا پروژې به په دوه کلونو او د ډېرو سکرو پروژې به په درېیو کلونو کې بشپړې شي.

دغه راز، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې په ۲۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د عزیزي گروپ شرکتونو له عمومي رییس میرویس عزیزي او د هغه له تخنیکي ټیم سره وکتل.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي گروپ شرکت له لوري د لس زره مېگاواټه پروژې اړوند د ۸۴۵ مېگاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل هرکلی وکړ او دا یې په هېواد کې د کاري فرصتونو د ایجاد او اقتصادي ودې د پرمختگ په برخه کې مهمې وبللې.

ښاغلي میرویس عزیزي د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال او د اړوندو ادارو له مسوولینو مننه وکړه، چې په ټولو برخو کې یې ورسره پوره همکاري کړې ده او له هېڅ ستونزې سره نه دي مخ شوي. هغه وویل، دوی درک کړې چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ کلک هوډ لري او دا دی اوس د مخلصو مسوولینو د هڅو په پایله کې د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل ترونونه لاسلیک شول. عزیزي زیاته کړه، د روان کال تر پایه به د برېښنا تولید له ۱۵ تر ۲۰ نورې پروژې هم پیل کړي، چې مجموعي ظرفیت به یې پنځه زره مېگاواټه ته ورسېږي.

د عزیزي گروپ شرکتونو عمومي رییس خوښي ښرگنده کړه، چې د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې کارونه په ښه ډول مخ ته روان دي، چې هرات ته د گازو په را رسېدو سره به له کانونو او پټرولیم وزارت سره په همغږۍ د گازو لویې شبکې او له گازو څخه د برېښنا تولید د ۳۰۰۰ مېگاواټه په ظرفیت د لویې فابریکې د جوړېدو کارونه پیل کړي. هغه همداراز د طبیعي گازو او ډېرو سکرو د اکتشاف، استخراج او له هغه څخه د برېښنا تولید په برخه کې له اړوندو ادارو سره د گډ کار کولو غوښتنه وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او اړوندو ادارو مسوولینو په یادو برخو کې د پوره همکارۍ او گډ کار اطمینان ورکړ.

## د ۸۴۵ مېگاواټه برېښنا په ظرفیت د برېښنا تولیدي پروژو پیل او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او عزیزي گروپ مشر لیدنه د خبر موخه:


موخه یې په هېواد کې د پانگونې جذب او د برېښنا تولید زیاتوالی ده.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولگه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د ۸۴۵ مېگاواټه په ظرفیت د برېښنا تولیدي پروژو پیل او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او عزیزي گروپ مشر لیدنه) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په

ټوله کې ۱۲۸۲ مثبت نظرونه، ۲۰۳ منفي نظرونه او ۲۶ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۸۵٪ مثبت نظرونه، ۱۳٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړانديزونه دي.

## امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- برېښنا د اقتصاد زړه، د صنعت ساه او د پرمختګ ستن ده.
- برېښنا توليد يوازې خدمت نه، بلکې د افغانستان د اقتصادي ثبات او صنعتي ودې اساسي ستن ده. د خصوصي سکتور او حکومتي ادارو ترمنځ دا ډول همکاري کولی شي زموږ هېواد د توليد، پانګونې او کارموندنې نوې مرحلې ته ورسوي.
- داسې وعدې مخکې هم شوې وې. دا يوازې د کاغذ پرمخ دي.
- يوازې تړونونه کېږي، د عملي کېدو چارې يې نه معلومېږي. تر اوسه يې کومه پروژه تکميله شوې ده.
- د ډېرو سکرو پر ځای د بادي برېښنا جوړولو ته توجه وکړئ.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی:** اکثریت هېوادوالو د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د برېښنا د تولید تړونونو لاسلیکېدل مثبت ارزولي او برېښنا یې د هېواد د اقتصادي ودې او صنعت له پاره ډېره مهمه بللې ده. رېښتیا هم دا دي چې برېښنا د هېواد د اقتصاد له پاره ډېره مهمه ده. د نننۍ نړۍ ټول صنعتي فعالیتونه د برېښنا په واسطه ترسره کېږي. هغه هېوادونه چې د صنعتي فعالیتونو له پاره کافي برېښنا لري، نو اقتصاد یې وده کړې، پانګونه یې جذب کړې، چې له امله یې د صنعتي فعالیتونو په پایله کې ګڼ کاري فرصتونه ایجاد شوي دي. افغانستان چې د برېښنا د کمښت له ستونزې سره مخ دی، صنعتي فعالیتونه په کې په هغه کچه نه دي، په کومه کچه چې باید وای. د افغانستان اسلامي امارت همدې ستونزې ته متوجه دی او غواړي چې د برېښنا د تولید د زیاتوالي لپاره په هېواد کې له موجود ظرفیته استفاده وکړي، څو د صنعتي فعالیتونو له پاره کافي برېښنا ولرو، ځکه دوامداره او ثابته برېښنا د اقتصادي فعالیتونو له پاره ډېره ضروري ده. اسلامي امارت د خصوصي سکتور د پانګونې له لارې په هېواد کې د برېښنا د تولید ګڼې پروژې پېل کړې دي، چې په بشپړېدو سره به یې نه یوازې په کور دننه د اقتصادي فعالیتونو له پاره کافي برېښنا تولید شي، بلکې د وارداتي برېښنا کچه به هم راکمه او له هېواده د پیسو د وتلو مخه به تر ډېره ونیول شي.

- **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د دې پروژو پر عملي کېدو شک څرګند کړی او په وینا یې چې دا ډول تړونونه او ژمنې مخکې هم شوې دي، خو عملي شوې نه دي. د دې هېوادوالو په ځواب کې باید ووایو چې اسلامي امارت له خپل ولس سره په کړیو ټولو ژمنو ولاړ دی او هغه څه چې پلانوي، نو عملي کوي یې هم. د برېښنا د تولید پروژو په اړه باید ووایو چې د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت په هېواد کې د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید ژمنه کړې او ان شاءالله چې د خدای تعالی او اسلامي امارت په مرسته به یې د خپل پروګرام مطابق بشپړوي، خو دومره ده چې دا کارونه وخت اخلي. سروې، تخنیکي چارې، اداري پروسې او نور کارونه د یوې ورځې او یوې میاشتې کار نه وي، بلکې یو څه وخت ته اړتیا لري، څو دا کارونه بشپړ شي او عملي کارونه یې پېل شي. لکه اوس چې په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا د تولید د پنځو پروژو عملي کارونه پېل شول، دغسې به یوه ورځ د دې پروژو د ګټې اخیستنې شاهدان هم یو. په دې اساس، د برېښنا د تولید پروژې لکه د نورو لویو پروژو په څېر وخت نه نیسي او کار ته اړتیا لري. اسلامي امارت په دې اړه جدي دی او د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت به له هېوادوالو سره کړې ژمنې پوره کوي او هڅه به یې دا وي چې ژمنې د پلان مطابق پای ته ورسوي.

- **دریيم:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د ډېرو سکرو د برېښنا د تولید پر ځای د بادي برېښنا د تولید خبره کړې او په وینا یې چې د بادي برېښنا تولید ته دې توجه وشي. افغانستان ډېرې برېښنا ته اړتیا لري او دا برېښنا یوازې د بادي برېښنا په واسطه نه شي پوره کېدای. دغه راز، په ټول افغانستان کې له باد څخه د برېښنا د تولید امکانات هم نه شته،

یوازې ځینې لویدیځ ولایتونه دي چې ډېر باد لري او د بادي برېښنا د تولید امکانات برابروي. په دې اساس، اسلامي امارت دغې چارې ته متوجه دی او موده وړاندې یې په هرات کې د بادي برېښنا د تولید پروژې پېل کړې، چې د برېښنا یو څه اړتیا به پوره کړي. سربېره پر دې، په هېواد کې له ډېرو سکرو د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت هم موجود دی او د دې له پاره چې د هېواد د برېښنا اړتیا پوره شي، نو د نورو تر څنګ له ډېرو سکرو هم د برېښنا د تولید اړتیا شته. اسلامي امارت د برېښنا سکتور کې د ځان بسیاینې په موخه د هېواد له ټولو شته سرچینو او فرصتونو استفاده کول غواړي، څو له یوې خوا د صنعتي فعالیتونو له پاره برېښنا برابره شي او له بلې خوا د هېوادوالو کورونه د برېښنا له امله روښانه شي.

## پایله

په هېواد کې د برېښنا د اړتیا د پوره کېدو په موخه د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت له لوري د برېښنا د تولیدي پروژو د عملي چارو پېل د افغانستان له پاره یو زړه راښکوونکی زېری دی. ځکه د دې پروژو له امله به له یوې خوا د هېواد له داخلي ظرفیت استفاده شوې وي او له بلې خوا به دا پروژې د اقتصادي فعالیتونو او د هېوادوالو د کورونو د روښنایۍ لامل وګرځي. په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو له تبصرو ښکاري چې اکثریت یې د دې پروژو د پېل په اړه خوشبین دي، خو ځینو هېوادوالو اندېښنې هم شریکې کړې دي. اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره جدي هلې ځلې کوي او هېوادوال دې له دې اړخه تشویش نه لري، ځکه اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ قوي هوډ لري او له هېوادوالو سره خپلې ژمنې به د پلان او مهالوېشونو په اساس د خدای تعالی په مرسته پوره کوي. ان شاءالله

# د کابل – بګرام سړک د جوړېدو چارې پيل شوې



## سريزه

د افغانستان اسلامي امارت د سړکونو پراختيا په خپل لومړيتوب کې نيولې ده. ځکه سړکونه نه يوازې د خلکو تګ راتګ ته اسانتيا برابروي، بلکې د سوداګرۍ او اتصال له پاره هم ډېر مهم وي. اسلامي امارت د ۱۴۰۴ کال په اوږدو کې په مختلفو ولايتونو کې د سړکونو جوړولو پروژې پيل کړې چې يوه مهمه هغه يې د کابل-بګرام سړک دی.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۲۳مه نېټه د کابل – بګرام سړک د جوړېدو چارو د پيل پرانيسته وکړه. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د کابل – بګرام سړک د کابل ښار له مهمو ننوتونکو لارو څخه وباله او ويې ويل، چې دا سړک کابل ښار له پروان او نورو شمالي ولايتونو سره نښلوي. هغه زياته کړه، دا سړک د نوي کابل ښار له اساسي ترانسپورټي زېربناوو څخه دی، چې د ښاري پراختيا، ټولنيزو فعاليتونو او اقتصادي اړخه مهم بلل کېږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، له بدمرغه افغانستان په تېر کې په ډېرو سياسي احزابو، قومي، سمتي او ژبنيو اجزاوو ويشل شوی و، چې د ملي مشترکاتو د پياوړي کولو په برخه کې يې لوی اکثريت له لاسه ورکړی و. د هغه په خبره، اسلامي امارت د دې ستونزو د حل لپاره جدي هڅه کوي څو دا ټول بې مفهمومه تقسيمات له منځه يوسي او افغانان په

داسې اسلامي او واحد ملي دریځ کې راټول کړي، چې د افغانستان سترې ګټې پکې خوندي وي. هغه وویل، په دې برخه کې یو بنسټیز کار تر شپږم صنف پورې د مدرسې او مکتب د نصاب توحید دی چې اسلامي امارت وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو هېوادوالو غږ وکړ، چې د نورو له راندە تقلید څخه لاسي واخلي، د هغوی تر اغېز لاندې رانشي او واقعیتونه غلط تفسیر نه کړي. د هغه په خبره، افغانستان د افغانانو کور دی او هرڅوک دلته په ارامه ژوند کولی شي، خپل هېواد ته راتللی او دلته پانګونه کولی شي. هغه وویل: «موږ نه د چا مخه نېولې ده او نه د اسلامي امارت ظرفیت دومره کوچنی دی چې هره فردي او جزوي مسئله جدي ونیسي.»

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمې او نړۍ پر هېوادونو غږ وکړ، چې له افغانستان سره مثبت تعامل د اوسني وخت اړتیا ده او د سیمه‌ییز او نړیوال اتصال د پیاوړي کولو او مشترکو پراختیایي اهدافو د تعقیب مهم رکن دی. د هغه په خبره، له دې حقیقت څخه سترګې پټول د مشترکو اساسي موخو تعقیب او ترلاسه کول کمزوري کوي او شته بالقوه فرصتونه په لوی لاس ضایع کوي. ټول هېوادونه د خپل جغرافیوي موقعیت، هوایي حریم، کاري قوې، خامو موادو او صادراتو او وارداتو له اړخه یو بل ته اړ دي او دا اړتیاوې هغه وخت په سمه توګه پوره کېدلی شي، چې د نړۍ هېوادونه د رسمي اړیکو په چوکاټ کې د تعامل جرأت وکړي، چې دا کار د ټولو په ګټه دی.

په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال یوځل بیا له هېوادونو وغوښتل، چې هر څوک باید د افغانستان له سرتاسري امنیت، اقتصاد محوره سیاست، د نورو هېوادونو په چارو کې د نه لاسوهنې، د سیاسي او اقتصادي تعامل پیاوړې ارادې او نورو ورته فرصتونو څخه لازمه ګټه واخلي او هڅه ونه کړي چې رامنځته شوي فرصتونه په تهدیدونو بدل شي.

د کابل – بګرام سړک ٦.٢ کیلومتره اوږدوالی او شاوخوا ۵۰ متره سور لري چې ۴۵۵ میلیون افغانۍ لګښت پرې راځي او مالي تمویل یې د اسلامي امارت له لوري کېږي.


## د کابل – بګرام سړک جوړېدو چارو پیل خبر موخه:

موخه یې د سوداګرۍ وده او د اتصال پیاوړتیا ده.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (کابل – بګرام سړکو جوړېدو چارو پیل) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ٦٧٨ مثبت نظرونه، ۸۰ منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۸٪ مثبت نظرونه، ۱۰٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړاندیزونه دي.

## امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- د جمهوريت په وخت کې دا سيمه امن وه، خو بيا دا پروژه پېل نه شوه.
- غوره اقدام دی. دا سړک د مهمو سړکونو له ډلې دی چې سويل له شمال سره وصلوي.
- د بادغيس حلقوي سړک، د جاغوري – غزني سړک او د اروزګان سړکونه هم پاخه کړئ.
- د هرات – غور سړک ته هم توجه وکړئ.
- د واخان ريل پټلۍ لازمي او ضروري ده. سل په سله بايد ونښلي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثريت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د کابل – بګرام سړک د چارو پيل په اړه خوښي څرګنده کړې ده او دا يې يو غوره ګام بللی دی. ځينو هېوادوالو ليکلي چې که څه هم په تېره اداره کې هغه سيمه امن وه، خو بيا هم د سړک

جوړولو چارې پېل نه شوې. هو! تېرې ادارې ډېرې پیسې، امکانات او وخت درلود او بهرنۍ مرستې هم ورسره ډېرې وې، خو د فساد موجودیت هغه څه و چې د ډېرو کارونو مخه یې نیولې وه. د کابل ښار یې یو ښه مثال دی، چې د ډېرو عوایدو او پیسو د موجودیت سره سره هم هغه مهال د کابل ښار لازمه پراختیا ونه کړه، خو موږ او تاسو ګورو چې اوسمهال د بهرنیو مرستو د بندېدو سربېره هم کابل ښاروالۍ د کابل ښار د سړکونو د پراختیا ګڼې پروژې پېل کړې دي او د ښار بڼه یې بدله کړې ده. اسلامي امارت او د تېرې ادارې ترمنځ ډېر توپیرونه دي چې یو مهم یې په اوسني افغانستان کې د فساد ختمول او د هېواد د ابادۍ د قوي ارادې درلودل دي، چې له امله د هېواد په مختلفو برخو کې ګڼې پراختیایي پروژې پېل شوې دي، چې د کابل – بګرام مهم سړک د چارو پیلېدل یې یوه ښه بېلګه ده. کله چې قوي اراده موجوده وي، نو بیا د لږو امکاناتو په شتون کې هم لوی کارونه کېږي. اسلامي امارت د هېواد د زېربنا پراختیا ته پوره توجه کوي او سړکونه د هېواد د داخلي اتصال او د سمه ییز اتصال او سوداګرۍ له پاره مهم ګڼي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په بادغیس، اروزګان، هرات او نورو ولایتونو کې د سړکونو جوړېدو یا د شته پروژو د سرته رسولو غوښتنه کړې ده. د دوی په ځواب کې باید ووایو چې اسلامي امارت ټول افغانستان ته توجه کوي او غواړي چې ټول هېواد کې پراختیایي پروژې پلې کړي، خو ځینو پروژو ته چې لومړیتوب ورکړل شوی، نو هلته اړتیا ډېره لیدل شوې ده. داسې نه ده چې اسلامي امارت نورو ولایتونو ته توجه نه کوي، بلکې د وخت په راتلو سره به ټولې نیمګړې پروژې تکمیلوي او نورې نوې پروژې به هم پېلوي، لکه په ځینو ولایتونو کې چې یې دغه کار کړی دی. د نړۍ په ټولو هېوادونو کې دا معمول دی چې لومړی مهمو او په اقتصادي لحاظ ضروري پروژو ته لومړیتوب ورکول کېږي، ځکه دا پروژې د خلکو د تګ راتګ او سوداګرۍ له پاره مهمې وي. اسلامي امارت د هېواد د ټولو نښلوونکو سړکونو د جوړولو او پراختیا پلان لري چې د وخت په رارسېدو سره به یې پلې کړي.

☜ **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د بدخشان د واخان دهلېز له لارې له چین سره د افغانستان نښلولو ته اشاره کړې ده. د دې هېوادوالو اشاره د ایران د ریل پټلۍ د یو مسوول خبرو ته وه چې ویلي یې وو ایران غواړي د واخان له لارې له چین سره ونښلي. اسلامي امارت مسوولینو د دې پروژې په اړه خوشبیني ښودلې او د سیمه ییز اتصال له پاره د دې پروژې پېل او بشپړېدل یې مهم بللي دي. اسلامي امارت د خپلې اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ په سیمه ییز اتصال باور لري او د ټولو هغو پروژو ملاتړ کوي چې سیمه ییز اتصال پیاوړی کوي. رښتیا هم د واخان دهلیز سیمه ییز اتصال په ځانګړې ډول له چین سره د افغانستان د نښلون لوړ ظرفیت لري او که چېرې افغانستان د دې دهلیز له لارې له چین سره ونښلي، نو له اقتصادي اړخه د هېواد له پاره ډېرې ګټې لري. افغانستان د دې دهلیز له لارې کولی شي له چین سره مستقیمې سوداګریزې اړیکې جوړې کړي او هم د افغانستان له لارې د ایران په ګډون د سیمې د ځینو هېوادونو ترمنځ د لارې واټن راکم کړي. په دې اساس اسلامي امارت لېواله دی او غواړي چې د سیمه ییز اتصال ټولې هغه پروژې پلې کړي چې د افغانستان له خاورې تېرېږي او افغانستان په کې مرکزي رول لوبوي.

## پایله

د کابل – بگرام سړک د هېواد د دوه سمتونو ترمنځ یو مهم نښلوونکی سړک دی. دا سړک نه یوازې د شمال او مرکز ترمنځ اتصال کې مهم رول لوبوي، بلکې د نوي کابل ښار پروژې په ارزښت لوړولو کې هم مرسته کوي.

ټولنیزو رسنیو کې د هېوادوالو له نظریاتو څرگندېږي چې اکثریت هېوادوال د دې پروژې ملاتړي دي او د سړکونو برخه کې د اسلامي امارت له کړنو راضي دي. ځینو هېوادوالو د هېواد په نورو ولایتونو کې د سړکونو غوښتنه کړې چې اسلامي امارت به یې امکاناتو ته په کتو او د وخت په رارسېدو سره پېل او بشپړوي.

Office of Deputy PM for Economic Affairs

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

dpmea.gov.af @FDPM_AFG fdpm_afg